سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۱۲/۰۴/۱۷

# د پښتون ولس

## او افغان ملي دولتونو ترمنځ د ډيورنډ استعماري سره کرښه

(لومړۍ برخه)

سريزه:

د ډيورنډاستعماري سره کرښه ديوې پيړۍ راهيسې په نړيواله کچه يوه ايديالوجکه، ستراتيجکه، جګړه يزه خونړي کرښه ګرځيدلي ده. دپښتون ولس ترمنځ د ډيورنډ کرښې نامالوم نړيوال حقوقي ارزښت، سياسي حالت په ملي دولتي کچه افغان ملي دولتونواوافغان ولس ته برخليک ټاکونکې بنسټيزکړکيچونه رامنځته کړي دي.
دډيورنډ کرښه يا دپښتونستان نړيواله مسئله نږدې ديوې پيړۍ راهيسې دافغان ولس ملي داعيه د افغانستان د ملي دولتونو دبهرني سياست په اجندا کې ځای لري. ډيورنډکرښه ديوې پيړۍڅخه د لر او بر افغان په منځ کې (مانا: يو ملي لږکي يا ديوستر ولس يوه برخه له خپل تاريخي پلارني هيواد سره او خپلي Irredentismus مورنۍ خاورې سره يوځای کيدل غواړي) رامنځته کړي دی. د يورنډ کرښې ته نږدې د يوې پيړۍ څخه يوو ريښتني ملي لر او بر افغان پښتون د يوې قانوني نړيوالي پولې په څير نه دي کتلي.
افغان دولتونوته کله هم د خپل پرله پسې ناورينونو، يرغلونواو نړيوال سياسي شرايطو نه برابريدو له کبله دغه فرصت په لاس نه دی ورغلي چې د ډيورنډ کرښې په اړه يوه ملي ستراتيجی لراوبر افغان ولس ته وړاندې کړي.
که څوک دلوی افغانستان، پښتونخوا او ازادو قبايلي په پټاره کې پاڅونونه، جهادونه، بغاوتونه، مقاومتونه، منظمه انارشې، داسلامي سختدريزو ډلو رامنځته کيدل او د يرغلګر پوځونوپه وړاندې دجګړو په لاملونو باندې ځان پوهول غواړي، دی بايد لومړۍ دافغانستان په قبايلي سيمه يا منځني پښتونخوا کې د برتانوي هنداو برتانوي پاکستان حکومتي استعماري سياسي جوړښتونو اوتاريخي خونړې بهير ته کتنه وکړي. څنګه دپښتنوپه سيمو کې دانګريزانو دښکيلاک له مهاله تر اوسه په مسلسل ډول خونړي جګړې روانه دي. په څه ډول پښتون ولس باندې دانګرېزانو، روسانو نړيوالو سترو امپراتوريو سياسي لوې لوبې اغيزه کړې ده. په څه ډول انګرېزانو د پښتنو په قبايلي سيمه کې دملک سيسټم او پوليټيکل ايجينټ نوي ځانګړې څواک رامنځته او پلي کړي دی، د همدې استعماري نوي سيسټم له لارې انګرېزانو، بيا ورسته دپنجاب استعماري، ډيکتاتوري پوځې رژيمونو دپښتنو قبايلو په برخليک باندې لوبې کړي او قبايلي وګړې د خداي ورکړي بشري بنسټيزو حقوقوڅخه بي برخي کړي دي. د دوی دخپل منځې تربرګنيو، بديو او نالوستيتوب څخه څومره ناوړو ګټه اخيستل شوي ده. څنګه د پنجاب پوځ او دپنجاب ای ايس ای د انګرېز انو کولونياليستي استعماري يرغلګر سياست کټ مټ دپښتنو په سيموکې د پښتنو په وړاندې او دپښتنو ويش کې کارولوي دی. څنګه انګرېزانولوی افغانستان دتزاري روسيي او پاکستان څنګه د پښتنو قبايلي سيمه د افغانستان ملي حکومتونو په وړاندې په خپلو ستراتيجکو پلانو کې د بيلونکې سيمي په څير کارولي ده. څنګه د پښتنو قبايلي سيمې د روسانو، انګرېزانو، پنجابيانواو امريکايانو د يرغلګر پوځونو پرمهال د اسلامي بهرنيو جهاديانو د جګړو ډګرنوپه مرکز نو بدلي شوي دي. څنګه دقبايلو د پښتونوالې له ميلمه پالني لرغوني دود او ژور پاک دوديزه اسلامي احساس څخه بهرنيو جهاديانواو پنجابي بي رحمه جنرالانو ناوړه ګټه اخيستي ده.
د انګرېزانو، روسانو او اوس د پنجابي پوځ په وړاندې دپښتني قبيلو د مبارزو تاريخ ډير اوږد دی. دې حالت څخه خلاصون او دخپلواکۍ مبارزه په خپلواکه قبايلي پټاره کې د ازادوملي ولسواکه څواکونو او د اسلامي بنسټپاله او ملتپاله څواکونو لخوا پيل شوي.
قبايلي سيمه کې د پنجابي پوځ په وړاندې جګړې موږ ته دانګرېزانو د کولونيال دور نښتي يا جګړې رايادوي.
هيواد پال پښتون قام تل په خپل ملي تاريخي پلارني ټاټوبي کې دښکيلاکګرو په وړاندې چې هرڅوک وي، په ګډه سره هر ډول بلهارۍ ورکړي او ورکوي.
دااليکنه د نړۍ هغي سيمي ته ليکل شوي، چې د نړۍ يرغلګروپوځونو د ظالم سياست په وجهه د دولتي قانون تشه، د مدني ټولنې اوټولنيز ژوندتشه په کې رامنځته شوي ده، قبايلي سيمې ته نه دکابل حکومتونو، نه داسلام اباد او نه دنړۍ بشردوسته هيوادونو پام کړي دی. قبايلي سيمه د نړۍ څخه ويره شوي او په انذوا کې پاتي شوي ده. داسي مالوميږي چې په قبايلي سيمه کې وخت له پيړيو پيړيوڅخه ولاړل دی. د کرښې دواړو خواوته له پيړيو، پيړيو راهيسې ګډې کورنې اوسيږي، ډيورنډ استعماري کرښې ديوې کورنۍ غړې په دوو برخو وېشلي. ښه بيلګه يې زما کورنۍ ده، همدا اوس زما د کورنۍ يوه برخه د يوې پيړۍ څخه په وزيرستان کې اوسي او هلته له يوې پيړي څخه خپلوي لري.
دغه حالت لراوبر پښتون افغان ولس ته تر ټولوډير دردونکې، سترې ستومانکونکې او دنه زغملو حالت دی.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## ۱ . د اسیا په زړه افغانستان کې دانګرېزي، روسي امپراتوریوسیاسي لویه لوبه

افغانانوپښتانه پوهېږي چې د دوی ترمنځ او خاوره کې د څولسیزو راهیسې استعماري، د پردیو جګړو اور بل شوي او ا صلي لامل یې د ډیورنډ استعماري توره کرښه ده.
څوک به اسیا کې د روسانواو انګرېزانو د ښکیلاکګرو ځواکونود سیاسي لویي لوبي په وړاندې دپښتنو پرلپسي پاڅونونه او د خپلواکۍ اوږده خونړي جګړه د غبرګون یوه نګه ښکارنده یا پدیده ونه مني؟
څوک به د پښتنو دملي خپلواکۍ جګړه، دپښتنودملي یوالي جګړه او د پښتنود اسلامي بنسټپالني پاڅوني جګړې دانګرېزانو، روسانو، امریکایانواو پنجابیانو دتوراستعماري پلانو په وړاندې د پښتنو ورستي جګړه، چې موخه د پښتون ولس پر وجود د ډیورنډ تپل شوي استعماري کرښې لمنځه وړل دي و نه پیژني؟ د افغانستان دیرش کلنه اوږده جګړه او پښتونخوا کې کورني جګړه له یوبل سره مستقیم تړو او یوالي لري. نه یواځې د ډیورنډ کرښې په دواړو غاړوکې بلکې ټول لروبر پښتانه افغانان د انګرېزي، روسي، پنجابي او امریکایي یرغلګرو پوځونو ته د نفرت په سترګه ګوري. پښتون ولس ان د ځینو ګوډاګې پښتانو افغانانوڅخه هم کرکه لري، کوم چې په پوهه او یا ناپوهي کې دښکیلاکګرو ځوکونو په چوپړکې دریدلي اوخپل مظلوم، بي ګناه ولس د پردیو په دسیسو کې ښکار او په سیاسي پردیو لویو لوبو، جګړو کې وژني.
ټولو یرغلګرو پوځونو له یوې پیړۍ څخه پښتانه په پرلپسي ټوګه د نړۍ له پرمختګ څخه محرومه کړي دي. د نړۍ یرغلګرو کولونیالیستو ځواکونو پښتون ولس ته د سر او مال ستر جبراً نه کیدونکې زیانونه اړولي دي. پښتانه یې داسیا په زړه کې په خپل سولیز کورکې په خونړي ویر او ماتم کې ویشلي کینولي او پښتانه یې له یوې پیړۍ څخه په جګړیزه خونړي چا پیریال کې ساتلي دي.
له بله خوا که د پښتنو د تیرو څولسیزو جګړیز، خونړي سیاسي تاریخ په ځیر سره ولوستل شي، په داګه ځرګندیزي چې پښتانه دخپلو لنډ فکرو ګوندي سیاسي مشرانو له لاسه دخپلو روا ملي ګټولپاره نه، بلکې په خپل پلارني هیواد کې د پردیو یرغلګرو دناروا استعماري ګټو ساتلو لپاره په دغه سیاسي لویه لوبه کې چې تر اوسه راونه ده استعمالیږي، بي ګناه، بي موخي وژل کیږي.
دغو مشرانو ونشو کړي چې پښتون افغان ولس له دغي ویشلي حالت او دجنګ بل شوي اور څخه راوباسي. هیڅ څوک له د غو ګوندي مشرانو څخه پوښتنه نه کوي چې پښتون افغان ولس مو په دغه ناپایه، بي موخو خونړیو جګړو کې چیرته اوپه څه ډول دولت پسي روان کړي دی؟

## ۲ . انګرېزانوپه څه موخه قبایلي سیمه رامنځته کړه

د انګرېزانو کولونیالیستي دولت د قبایلي علاقي په رامنځته کولو سره غوښتل، تر څوبرتانوي هند ته د قبایلي سرحدي سیموله پیچلو لارو څخه تزاري روسان او د پښتنو له نورو سیموڅخه د سیاسي، ټولنیزو او دخپلواکۍ غوښتونکې غورځنګونو ورننوتلو مخنوي لپاره یومیکانیزم وګرځي.
د پښتنو سیمې ویش په قبایلي اومیشتو پښتانو باندې د انګرېزانود کولونیالیستي ترمینالجۍ برخه وه.
انګرېزي کولونیالیستي دولت غوښتل په ارزانه بیه یواغیزمن سیاسي جوړښت رامنځته کړي، تر څو د برتانوي هند پولې او لري پرتي سیمې امنیت پرته د برتانوي هند له مستقیمي اداري څخه هم کنټرول کړي. انګرېزانو دقبایلی سیمي په رامنځته کولو سره ونه توانیدل د پښتنو او انګرېزانو ترمنځ د اخ او ډب مخه او دپښتنو د خپلواکه پاڅونونو مخه ونیسي. پښتنو د همدې ترپ او خرپ جګروپه ترڅ کې دنړۍ ستر کولونیال ځواک ته هم ډیر درانه ګوزارونه، زیانونه ورواړول.
د انګرېزي امپراتورۍ وجود لپاره پنجاب دوست اود پښتنو پښتونخوا سیمه (صوبه سرحد) د دښمن سیمه ګڼل کیدې. دانګرېزي نړیوالي امپراتورۍ لپاره په اسیا کې د دغي دوو ستراتیجکو سیمو امنیت خورا ډیر مهم وو. افغانستان کې د پښتنوسیمې په وړاندې د انګرېزانو ستراتیجیک سیاست موخه اسیا کې د روسانو د پوځي پرمختګ مخه ډبول وو، انګرېزان مجبور شول د روسانو د پوځي ګواښ په وړاندې یوه بیلونکې سیمه رامنځته کړي. ککه هم انګرېزانو په پیل کې هڅه وکړه، چې پښتانه د پوځي ځواک له لاري په ګوندو کړي. په ۱۸۴۱ کال د دسامبر په میاشت کې د افغان ــ انګلیس لومړۍ جګړه د سختي ماتي سره پای ته ورسیده. په نړۍ کې دافغان ـ انګلیس درې تاریخي جګړو ماته دانګریزانو امپراتورۍ ته په نړیواله کچه یو تاریخي جبرا نه کیدونکې ناورین بلل شوي دی.
په ۱۸۷۶ کال کې انګرېزانو په سیمه کې دخپل ښکیلاک لپاره د کلوز باډر پالیسۍ یا دتړلي پولې سیاست پلې کړو. انګرېزانو د ۱۸۵۷ څخه تر ۱۸۸۱ کالونو کې په ختیځ افغانستان یا پښتونخوا کې درویشت ځله پوځي عملیات ترسره کړل، ورسره انګریزانو په پښتنو باندې اقتصادي بندیزونه هم لګول او کله ناکله د پښتنو قبیلو د خپل منځي شخړو کې د منځګړیتوب دنده هم ترسره کوله.
په ۱۸۸۰ کال کې کله چې انګریزانو د افغان ـ انګلیس دوهمه جګړه هم د سخت ماتې سره وبایلله، انګرېزانو د فورود پالیسي یا دپرمخ تګ سیاست غوره کړه. (۱)


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۸۹۳ د نوامبر ۱۲ نیټه انګرېزانو د دپښتون ولس اودافغان شاهي دولت ترمنځه د ډیورنډ استماري کرښه ویستله . کافر پیرنګي ښکیلاکګرو د کندهار، پیښور،دکابل اوکویټي ښارنو ترمنځه دکاغذ پرمخ هوایي کرښه ویستله . دبریتانیه نیواکګر سیاست د پښتنو په وړاندې له چلونواوسپین سترګیو څخه ډک سیاست وو.

## ۳ . قبایلي سیمه کې د انګرېزانو پولیټیکل ایجینټ او د ملک سیستم

د۱۸۷۲ څخه تر ۱۹۰۱ کالونو کې په درسته پښتونخوا او قبایلي سیمه کې دانګرېزانو تور استعماري قانون ایف، سي، ار چلیده. (FCR Frontier Crimes Regulation) په ۱۸۹۰ کالونو کې انګرېزانو په لومړۍ ځل په منځني پښتونخوا یا قبایلي سیمه کې د ملک سیستم رامنځ ته کړو. انګرېزي کولونیالیستي ځواک داسي یونوي قانون چې نه دپښتنو دودیزه نه لیکول شوي قانون « پښتونوالې»، نه د نورو ولسونوعادتي قانون او نه برتانوي قانون سره پرتله کیده، له همدې سره انګرېزانو یو نا انسانه، نا مدني اود بشریت ضد قانون دقبایلو په سیمه کې رامنځ ته کړوچې تر ننه په قبایلو کې دوام لري.
په ۱۹۰۱ کال کې د انګرېزانو د کولونیالیستي ښکیلاک پر مهاله دغه غیر مستقیم ډول د حکومت کولو قانون د قبایلي وګړو دغیر مستقیم اداره کولو لپاره نافذ شو. انګرېزان پوهیدل چې قبایلي ولس به هیڅ کله د یو یرغلګر پردي پوځ او نا پښتون حکومت دبشپړ کنټرول لاندې نه راځي.
دانګرېزانو د ایف، سي، ار، دسلسلي مراتبو زوړ، توراستعماري سیستم رامنځ ته کړو، تر څو پښتانه قومونه، قبیلې او د دوی سیمې په خپل کنټر ول کې ولري. ورسره د پښتنو قومي، قبیلوي لرغوني ارزښتونه او جوړښتونه د ملک بر لاسي سیستم له لارې په قبایلي ټولنه کې تیټ وساتل شي. انګرېزانو د دې سیستم په رامنځ ته کولو سره د پښتنو خانانو، قومي مشرانو، مخورور، د قام دسپین ږیرو واک او ځواک په ولس کې رالنډ کړو او ملکان یې د خپلو ښکیلاکګرو مخو لپاره په ولس کې د قوم اختیار لرونکې ځواکمنو کسانو په څیر رامنځ ته کړو. ملکان مجبور کړل شول چې دبرتانوي هندحکومتي ادارې ته قبایلي وګړي وڅاري او کنټرول کړي.
د برتانوي هند حکومتي ادارې د ملکانو په مرسته قبایلي سیمه کې له خلکو سره تړونونه لاسلیکول اوکله چې دوی خپلې ځانګړي ورسپارل شوي دندې ترسره کړې، انګرېزانو به ملکانو ته مکافات اونقدي پیسې ورکولې.(۲)
ملک او دملک سیستم، پولیټکل ایجنټ تراوسه دقومونو ترمنځ په قبایلي ایجنسیو کې په شخړو او دعوو کیراګیر سیستم دی.
انګریزانو او برتانوي پاکستان په قبایلي سیمه کې تر ننه هیڅ ډول اقتصادي، ټولنیز او سیاسي بنسټیز ه سیستم رامنځته نه کړو.
په فاټا یا قبایلي سیمه کې دولتي قانون، قضایي قانون، محاکم، پولیس اومحابس نشته. په قبایلو کې سیاسي ګوندونو ته تر اوسه اجازه نشته چې سیاسي فعالیت وکړي. د پنجاب پوځي رژیمونو لخوا قبایلي وګړي په سیتماټیک ډول دخپل سیاسي او ټولنیز ژوند له برخه اخیستلواو حقونو څخه محرومه کړل شوي دي.
له همدي لاملونو په وجهه قبایلي سیمه ورو ورو په نړۍ کې یو تور سوري او دقانون تشي په سیمه بدله شوه. له همدې سره په قبایلي سیمه کې د پښتنو ترمنځه د شخړو او کړکیچونو کولتور برلاسي شو. قبایلیان له پامه وغورځول شول، قبایلي سیمه کې چاه چې د برتانوي حکومت خبره نه منله، په ډیرو سختو او ظالمانه ناروا جزاګانو به مجازات کیدل. دانګرېزانو لخوا په قبایلي سیمه کې جوړ شوي سیاسي او ټولنیزه استعماري نظم د ښکیلاکګر او د ښکیلاک شویوخلکو ترمنځ هیچ توپیر نه کاو، انګرېزانو د ملکانوڅخه په پیسو رانیول شویویا د ښکیلاکګرو سره دکولابراتور لاسپوځې کسانو په څیر کاراخیستلو.
د انګرېزانوغیر انساني او ظالمانه سیستم په وړاندې دقبایلیانو لخوا تل پاڅونونه شوي دي. دپښتنو پرلپسي پاڅونونه د انګرېزانو نړیوال ښکیلاکګر زبرځواک ورو ورو بي ثباته او له نړیوالي شرمونکې ماتي سره مخامخ کړو.
د افغانستان په غرونو او درو کې د منځي پښتونخوا قبایلي وګړې له کوم وخته چې انسان او بشریت فکر کوي یا د انسان او بشریت تاریخ لیکل شوي دی، دوی یواځي اویواځي یو پښتون افغان ملي دولت ته چې د دوی پښتني لرغوني ارزښتونه، اراده او سیاسي ټولنیز حقونه په کې څرګند شي سر تیټ کړي او ټیټوي.

## ۴ . ازادو قبایلوپټاره کې د انګرېز او پنجاب ښکیلاکګر پوځونو سیاسي پلانونه

فاټایواځې دنړۍ په نقشه کې پاکستان پور اړه لري. Federally Administered Tribal Areas دقبایلو سیمه د ننني افغانستان په څنګ کې د دولتي واک او دقانون تشه د پاکستان رژیمونو کمزوري ښایی. په قبایلي سیمه کې دقانون تشه، د افغانستان په تاریخ کې د هر دولت د تلپاتې سولې او ثبات لپاره تل ستر ګواښونه رامنځته کړي دی. په فاټا یا دازادو قبایلو پټاره کې د پنجابي پوځې رژیمونوستعماري اودبشر ضداوامر لکه د انګرېزانو کولونیالیستي او امر د ځانګړو مراحلو له لارې پلي کیږي. دپنجاب حکومتي اوامر کټ مټ لکه د انګرېزانو د استعماري ځواک په څیرد هري قبیلې د خپلواکه پرنسیب له لارې پلي کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

قبايلي سيمه په اوو اداري واحدونه يا ايجنسيو باندې په لاندې ډول ويشلي شوې ده، دشمالي اوجنوبي وزيرستان ايجنسۍ، اورکزيايجنسی، باجوړايجنسی، خيبرايجنسی، کورم ايجنسی، مومندايجنسی. د اوو ايجنسيو سربيره فاټا شپږ سرحدي سيمې يا ولسوالۍ هم لري، د بنوسيمې، دکوهاټ سرحدي سيمه، دلکي مروت سرحدي سيمه، ديره اسماعيل خان سيمه، دپيښور سرحدي سيمه او ټانک سرحدي سيمه د فرانټير ريجنز په نوم هم ياديږي. دغه سيمې د پښتونخوا او قبايلي ايجنسيو ترمنځ پرتې دي. د ازادوقبايلوسيمه يا اوو سياسي ايجنسۍ دپاکستان پوځي ډيکتاتورانو او د پوليټکل ايجينټانو لخوا اداره کيږي. پوليټکل ايجينټان د پښتونخوا د والي لخوا ټاکل کيږي .
پوليټکل ايجينټان په قبايلي سيمه کې د پوځي ډيکتاتوري رژيمونو استازي دي. پوليټکل ايجينټان کوم مستقيم دولتي يا اداري صلايت نه لري. د قبايلو په وګړو کې د پوليټکل ايجينټانو اوامر او اغزه دملکانو له خواپلي کيږي. قبايلو کې پوليټکل ايجينټان ولسي ملکان قومي مشران د ډول ډول فشارنو له لارې ګواښي. دوی ملکان دپيسې يا نورو مادي مکافاتو له لارې راخپلوي . بياکه څوک دپنجابي پوځ خبره يا اوامر نه مني، دوی د پنجاب پوځيانو او پوليټيکل ايجينټ لخوا په ډليز ډول يا ټولې قبيلي ته مجازات يا د پيسو نقدي جريمي مجازات ورکول کيږي، يا قبيلي ته دنورو لارو څخه ډول ډول ګواښونه کيږي. تر څو خپلواک پښتانه د خپلو استعماري اوامرو تابع کړي. پيل کې انګريزانو اوس پنجابي پوځيان د دغي سيستم له لارې قبايلي وګړي د پيسو پريکولو جريمه او دنورو سختو ډليزو مجازاتو له لارې همکاري ته مجبور وي.
پولټيکل ايجينټان او قومي ملکان يو بل ته اړتيا لري. قبايلي ملکان په قوم کې دخپل واک، ځواک او اغيزه لپاره د پوليټيکل ايجينټ مادي مرستو اونور سياسي مرستي چې د ده اغيزه په قوم کې ټينګه کړي اړتيا لري. د قوم ملک د پوليټکل ايجنټ د مرستو څخه ستفاده کوي تر څو دی په قبيله کې يوه کوچني ځاله جوړه کړي. پوليټيکل ايجينټ ملک ته د دې لپاره اړتيا لري تر څو دې د حکومت سياسي استعماري توري موخې په سيمه کې پلې کړي.
اوس قبايلي سيمه کې دملک سيستم او دپوليټيکل ايجنټ ځانګړي واک دغه دوه استعماري لاملونه د اسلامي سختدريو وسله والو ډلو او دطالبانو غورځنګ د رامنځ ته کيدولواو شتون په وجه تر ډيره بريده لمنځه تللي دي.
په ۱۹۸۰کال کې د افغانان جګړه دپخواني شوروي اتحاد په وړاندې پيل شوه. ملايان او طالبان د پخوا څخه دقبايلي ټولني يوه مهمه برخه وه، دوی په سياسي او ټولنيزه کچه د خانانو، قومي مشرانوترشا ولاړ خلک وو. په قبايلي سيمه کې قومي قبايلي جوړښتونه د دوو ټولنيزو ډلو لخوا چې اوس يې ډير واک تر لاسه کړي، ترخاورو لاندې شوي. لومړی، نه پيژندل شوي وسله والې اورپکې ډلې چې ورو ورو په سيمه کې په ځواکمني څيرې بدلي شوي. دوهم، دپخواني شوروي اتحاد پر وړاندې د جهاد پرمهال ملايانو او ديني مشرانو په قبايلي سيمه کې ستره سياسي اغيزه ترلاسه کړه.
کمزوريو سره مخامخ شوه. قبايلي وګړو او قبايلي قومي خپلواک مشران مجبور شول چې سيمه دغو نويو رامنځته شويو ځواکونو ته پريږدي. ملايانو او جهاديانو خپله سياسي اغيزه په سيمه کې ورو ورو وغزوله. د پاکستان پوځيانو، استخباراتو او جهاديانو د سيميزو وګړو دپاکو ژور مذهبي احساس څخه د شوروي اتحاد دجهاد پر وړاندې ګټه واخيستله. د پاکستان داستعماري پټو تور پلانونو لارې په سيمه کې نيمه پوځي جوړښتونه رامنځته شول. د شوروي اتحاد له ماتي څخه ورسته دغه قومي زاړه جوړښتونه بيرته ونه رغوشول. له يوخوا دغه وسله والي اورپکې ډلې او ځالې پرته له کوم ځند او خند څخه د امريکې او ناتو يرغلګر پوځونواو دپاکستاني پنجابي يرغلګر پوځ اوسياست په وړاندې وسله وال مقاومت پيل کړي، له بلخوا اورپکې ډلې د نړيوال جهاديزم او القاعدي تروررستي ډلې په چوپړ کې پريوتي. دوی ورو ورو دپاکستاني طالبانو تحريک په نوم ځانانونه ونومول. دغه غورځنګ له يوخواد قبايلي ټولني او بهرنيوجنګياليو ترمنځ اړيکې او پل جوړوي، له بلي خوا د پښتونو د زرګونو کلونو ټولنيز جوړښت او دوديزه ارزښتونو ځواک په خپله سيمه کې چې دجګړو له امله کمزوري شوي دي تر خاورې لاندې کوي.
طالبانو اوس په قبايلي سيمه کې حکومتي جوړښتونه ورته جوړښتونه رامنځته کوي، تر څو قومي مخورو مشرانو، د ملک سيستم اود پښتونوالي ايديالوجی ځواک د ترور او وژنو له لارې خفه کړي او په سيمه کې د پاکستان د پوليټيکل ايجينټانوکمزوري واک نوره په شا وتمبوي. سيميزو جهاديانو دقبايلو په ځينو سيمو کې د غلو، لوټمارانو اوجنايي مجرمينو په تعقيب او عدامولو هم لاس پوري کړي دی. دوی خلک د خپلو شوراوي له لارې تر فشار لاندې راولي، دوی خلک مجبوري چې ژيري پريږدي، د نايي دوکانونه په بمونو الوځوي، دموزيک، ټلويزيون اودفلم پلورنځې داسلامی قوانينو په نامه لمنځه وړي. نړيوالي مرستندويه ټولني بې وزلي خلکومرستو ته نه پريږدي. د فاټا قبايلي وګړي او قومي مشران نه يواځې د جهادي اورپکو ډلو لخوا تر مرګوني ګواښ لاندې دي، بلکې دوی دپاکستان د اي ايس اي، يرغلګر پوځ له خواهم هره ورځ بې ګناه ځورول، کډوال او وژل کيږي.
دملګروملتونو د کډوالو ټولنه يو، اين،ايچ، سي، ار، وايي،د پاکستان پوځ اوطالبانو ترمنځ د نښتو او جګړو دډيريدو له امله د قبايلو ځايي نيم ميليونه وګړي د خپلو کورونو او سيمو پرېښودو ته اړ کړل شوي دي.

پاکستان دقبايلي سيمو د کنټرول لپاره د انګريزانو له تور ايف، سي، ار قانون څخه کاراخلي، د پاکستان پوځ کله چې يو متهم يا تورن سړی نيسي، دوی ټول کلي يا قبيله په ډليزه توګه رانيسي، کله چې يوه قبيله ونتوانيږي او نشي کړي يو متهم يا تورن سړي حکومت ته په لاس کې ورکړي، د دوی سيمه يا کلي محاصره کيږي، په ټول کلي باندې چاپه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وهل کيږي  اوپه ډليزه مجازاتو مجازات کيږي. ازاد قبايلو کي دا ډول  مجازات  ديو تورن  يامتهم سړی درانيولو لپاره تر سره کيږي، چي د نړيوال منل شويو  بشري  حقونو خلاف، دانسان لوړ مقام ته نه درنښت  او دبشريت ستر سپکاوي دی.

کله چي قبايلي قومي جوړښتونه  کمزوري وي، دکلي خان، دکلي مشر، دکلي سپين ږيري، مخور   اتوريتي او خبره   د ټولو لخوا يوشان نه منل کيږي، يوتورن سړی او يا يوه ډله چي په ښو وسلو سمباله وي د ايف، سي، ار  تور انګريزي استعماري قانون ته  سر نه ټيټوي.

په قبايلو کي وسله والي  اوريکي دلي ځښت ډيري ځواکمني شوي دي. ناشوني ده  دا ډول ډليزه مجازات خپله موخه تر لاسه کړي. دا ډول مجازات   د انګريزانو او پنجابي ډيکتاتوري پوځي رژيمونو لخوا د يوي پيړی څخه په قبايلي وګړو باندې پلي کيږي. جوته  خبره ده چي  خلک د انګريزانواو دپاکستان پوځ، پوليټيکل ايجنټانو او دولتي ادارو څخه نفرت لري. پوځ په سيمه کي د ډليزو مجازاتوپلي کولو لپاره د پوځي عمليات   څخه  هم کاراخلي. دپاکستان پوځ  ته په دې ورستيو کالونو کي  له همدې امله ډير ځيانونه  هم اوښتي دي. دپنجاب ځارګري اداری په قبايلي سيمه کي ډيرې  وسله والې ډلي رامنځته کړي، دوی په سلګونه دپښتنو قومي ملي مشران وژلي دي، تر څو د پښتنو د ملتپالني او د پښتنو دملي يوالي روحيه په پښتنو کي ووژني.

د پاکستان  پوځ د قبايلي ولس په وړاندې اوس دهوايي ځواک او بمباريو څخه  کاراخلي، چي  ملکي بې ګناه خلکو ته ځاني او مالي زيانونه اړول کيږي. قبايلي وګړي دپنجاب  ډيکتاتوري رژيمونو، دپنجاب  يرغلګر پوځ او استخبارات  ای ايس ای  ته  د دريوخونړيو ناورينونه په ځير ګوري. سيميزه  قبايلي خلک د پنجاب پوځ ته د يرغلګر پوځ په ځير ګوري، سيميزه خلکو د پاکستان  پوځ  په وړاندې بغاوت  او پاڅون پيل کړي دی. د دې سربيره  د امريکايي دروند الوتکو لخوا په قبايلي سيمو باندې  د ړندو  هوايي بريدونه کيږي. خلک اوس داسي انګيري او احساس وی چي د پاکستان پوځ د امريکا په اشاره د مسلمان  پښتون ولس په وړاندې جګړه پيل کړي ده. له همدې سره د پاکستان دولت مشروعيت تر خاوري لاندې کيږي. له همدې امله قبايليان د نړيوال جهادي اورپکو ډلو غيړته ورلويږي.  وسله وال ځوان  قبايليان دسيمه يزو سختدريز وبنسټپالو ډلو سره همکاريو ته مجبوريږي.

له همدې امله د پښتون  معصوم او بې وزلي ولس  په ځيرلي ناروغه  تپي وجود کي د القاعدې  ډير ګوابنمن وايروس ننوتلي دي.

دلومړی برخي پای

لمنليک

1.Vgl.Akbar S.Ahmed, Pukhtun Economic and Society—Tradition Structure and Economic Development in a Tribal Society, London 1980 .
2. Vgl. C.C. Davies, The Problem of the North-West Feontier 1890- 1908 London 1932,S.24f